# د عوبدیا نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

دا لنډ کتاب د میلاد نه مخکې په ۵۸۶ کال د اورشلیم د سقوط څخه وروسته لیکل شوی دی، کله چې جنوب ختیځ خواته د یهودا پخوانی دښمن ادوم نه یوازې د اورشلیم په سقوط خوشحاله شو، بلکې د یهودا د غمجن او خطرناکه حالت څخه یې ګټه واخیستله، ترڅو ښار لوټ کړي او د یرغل کوونکي سره مرسته وکړي. د ادوم خلک د عیسو د اولادې، د یعقوب ورور او په حقیقت کې د اسراییلو قوم ته یو نژدې قوم دی. عوبدیا پېشګویي وکړه چې ادوم ته به د نورو قومونو سره چې د اسراییلو دښمنان وو، سزا ورکړي او ماتې به وخوري. عوبدیا د خلکو غوږونو ته دا خبره رسوله چې ټوله نړۍ د خدای ده او یوه ورځ به ښتن په هغې باندې حکومت وکړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د موضوعګانو لست

د ادوم سزا: ۱–۱۴ ایتونه

د خښتن د قضاوت ورځ: ۱۵– ۲۱ ایتونه

# خښتن ادوم ته سزا ورکوي

۱ دا د عوبدیا هغه رویا ده چې خښتن خدای ورته د ادوم د
قوم په هکله ښودلې وه:

مونږ واورېد د خښتن نه یو پیغام

هغه ولېږه قومونو ته استازی چې وایي

پاڅئ او تیار شئ د ادوم سره د جنګ دپاره

۲ وایي خښتن ادوم ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به کمزوری کړم تا د قومونو منځ کې

هرڅوک به ګوري درته په سپکه سترګه

٣ ته غولولی یې خپل غرور

ته چې اوسېږې په کمرونو کې

او جوړوې خپل کور لوړو ځایونو کې

د خپل ځان سره ته وایې چې

څوک به راښکته کاندي ما لاندې؟

٤ که د عقاب په شان والوزې ته پورته

او جوړه کړې خپله ځاله د ستورو منځ کې

چې ښکاره شي داسې چې وي د ستورو منځ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو رابښکته کوم به دې زه ښښتن داسې ويلي دي:

⑤ که غله راشي د شپې او لوټ کړي تا

نو يوازې يوسي به هغه څه چې زړه يې غواړي

کله چې خلک راټولوي انګور

لږ څه پرېږدي هميشه

خو ستا دښمنان به تا بيخي ورک کړي

⑥ اولاده به د عيسو لوټ شي

او يووړل به شي پټې خزانې د هغوی

⑦ ته غولولی يې ټولو ملګرو خپلو

ته يې شړلی يې له خپل وطنه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې روغه جوړه کومو خلکو کړې وه تا سره

اوس شول کامیاب په تا

کومو دوستانو چې خوړلې وه ډوډی ستا

دام تا ته یې ایښی ؤ

ستا په هکله وایي: څه شوه د هغه ځیرکتیا؟ ⑧ څښتن داسې ویلي دي:

په هغه ورځ چې ادومیانو ته سزا ورکوم

زه به تباه کړمه د دوی هوښیار خلک

او زه به ورک کړم ټول پوه خلک د هغوی

⑨ سخت به ووېرېږي تیمان د ښار جنګیالیان

او وبه وژل شي هر عسکر ادوم کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ادوم ته د سزا ورکولو دلیلونه

۱۰ په دې خاطر چې تا دی کړی ظلم

په خپلو ورونو یعنې په اولادې د یعقوب

ته به پټ شې په شرمونو او تباه به شې د تل دپاره

۱۱ چې کله ماتې دښمنانو کړلې دروازې د هغوی

په هغه ورځ ته یوه خوا کې وې ولاړ ورته

ته هم وې داسې بد پردیو خلکو په شان

چا چې یووړلو مال او دولت د اورشلیم

ویې وویشلو اورشلیم خپل منځ کې

په پچې اچولو سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ باید چې ته خوشحاله شوی نه وای

په بدبختۍ د خپلو ورونو په یهودا کې

باید چې تا خوشحالي کړې نه وای

د هغوی د بربادۍ په ورځ

تا باید دوی پورې خندلي نه وای

د هغوی د مصیبت په ورځ

١٣ باید چې ته ورننوتی نه وای زما د قوم ښار ته

په هغه ورځ چې وو راګیر سختو کې

خوشحاله شوی باید نه وای د هغوی په تماشه باندې

لوټ کړی نه وای تا مال او دولت د هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په هغه ورځ چې مصیبت کې ؤ دوی

۱۴ ته باید نه وای ولاړ په ښلور لارې کې

چې ووژني هغه خلک چې تښتېدل به

باید چې نه وای تسلیم کړي دوی تا دښمنانو ته

په کومه ورځ چې مصیبت کې وو دوی

# د ښښتن د قضاوت ورځ

۱۵ رانژدې شوې هغه ورځ چې زه ښښتن به

قضاوت کومه نورو قومونو سره

ای ادومه، تا چې کړي دي څه

وبه شي تا سره هماغسې کار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه چې تا کړي دي په تا به وشي

۱۶ تريخ جام دی ښنبلی زما قوم د سزا

په سپېڅلي غره زما

خو هم به يې وښنبي ادوم او د شاوخوا قومونه

د دې نه ډېر تريخ جام د سزا

هغوی به ټول وښنبي او شي به پناه له سترګو

۱۷ خو ځينې به بچ شي د صهيون په غره کې

او سپېڅلی ځای به وي بيا

بيا اولاده به د يعقوب ونيسي د هغو خلکو ځمکه

چې يې نيولې وه له دوی څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ وي به د اور په شان د یعقوب او د یوسف اولاده

کړي به نابود هغوی اولاده د عیسو

لکه څنګه چې اور بوس سوځوي

داسې به پاتې ژوندۍ نه شي د عیسو اولاده ما څښتن
داسې ویلي دي.

## د څښتن پاچاهي

۱۹ د جنوبي یهودا خلک به ادوم ونیسي

او د لوېدیځو غرو لمنو خلک به فلسطین ونیسي

اسراییلیان به نیسي د افرایم او د سامرې سیمې

او د بنیامین خلک به جلعاد ونیسي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ شي راستانه به د اسراييلو له شماله

جلاوطنه لښکر به فينيقيه ونيسي

د شمال نه تر زرفت پورې

د اورشليم جلاوطني خلک چې دي ساردیس کې

هغوی به ونيسي ښارونه د جنوبي يهودا

٢١ د اورشليم بريالي خلک به

حمله وکړي په ادوم باندې

حکومت به کاندي په هغه باندې

او ښښتن به خپله وي پاچا

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ٢٠٢٣